د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۱۲ مه گڼه • پنجشنبه • د مرغومي ۵مه • ۱۳۹۸




٦

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت ټولو ولایتي رئیسانو ته درې ورځنۍ ورکشاپ نن پیل شو



۸

د شینوارو ٦ ولسوالیو کې ٤٠٥ میلونه افغانیو په ارزښت ١٦٨ پرمختیایي پروژې پلې کیږي



٤

په افغانستان کې د کاریزونو د رغونې ورکشاپ جوړ شو



# په سرپل کې د نږدې ٤ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د غزولو کار بشپړ شوی دی

۳/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لخوا د ٤ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاري بریښنا د یوې شبکې د غزولو کار د سرپل ولایت د مرکز اړوند د بغاوي علیا کلي د پراختیایي شورا له لوري بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی. د نوموړې پروژې د جوړولو په ترڅ کې د ۲۱۰۵ متره اوږد د ۲۰ کیلوولټه مزي او د ۳٦٦۰ متره اوږد د صفر اعشاریه ٤ کیلو ولټه مزي د غځولو لپاره د تي پي او اس پي دوله ٥٤ پایې، نصب شوې دي. همدا رنګه نوموړې پروژه د ۱٦۰ کیلو ولټه امپایر په ظرفیت ۲ ترانسفارمرونه لري چې د پروژې په بشپړیدو سره ۱٥۳ کورنیو ته د برېښنا څخه د ګټې اخیستنې د لاسرسي زمینه برابره شوې ده. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د جوړیدو په بهیر کې د ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو لپاره ٦۱۲ کاري ورځې هم منځته راغلې وې.



# په ننګرهار کې له ۱۸ اړو کورنیو سره د څه باندې ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

له ۱۸ اړو کورنیو سره څه د باندې ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د کوزګرابه د پراختیایي شورا له خوا د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوې چې اوړه ، بوره او لوبیا په کې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوړې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، بیوزلو کسانوته دشتمنو خلکوله خوا دلاسنیوي فرهنګ دودوي.

# په کندز ولایت کې د څه باندې د ۲.۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه سړک د بیا رغونې کار روان دي

۱/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د څه باندې ۲.۲ میلیونه افغانیو په لګښت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام دځارنې، ساتنې او ودانۍ له پاره د پراختیایي نغدي وجهې پروګرام (MCCG) له خوا د یو سړک د جوړولو، شګې اچولو او د ځینو برخو پراخولو او ډکولو کار د کندز ولایت اړوند د نویان د پراختیایي شورا لخوا روان دي. د دغه سړک اوږدوالي نږدې ٤ کیلومتره او پلنوالي یې٥.۳ متره دي چې کاريې تر اوسه ۲۵٪ پرمخ تللي دي. د نوموړي پروژې د کار په بهیر کې ماهر او غیر ماهر کارګروته به ٤٠٠ کاري ورځې رامنځته شوي او د پروژې د کار له بشپړیدو وروسته به ۲۸۷ کورنۍ ترینه ګټه واخلي.





# په افغانستان کې د کاریزونو د رغونې ورکشاپ جوړ شو

۳۰ / لیندۍ / ۱۳۹۸

په افغانستان کې د کاریزونو د بیا رغونې او جوړونې روزنیز درې ورځنی ورکشاپ نن د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري جوړ شو.

دغه ورکشاپ د زراعت د ودې په برخه کې د جلالتمآب جمهور رییس د ستر سلاکار عبدالحمید هلمندي، د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د برنامو د معیین ښاغلي محمد عیسي قدرت، د دغه وزارت د سیمه ییز پروګرام د رییس ښاغلي بریالي هلالي او د کاریز د نړیوال مرکز د څیړونکي ښاغلي مجید لباف په شتون کې پرانیستل شو.

د دغه ورکشاپ د پرانیستې په مراسمو کې ویناوالو په افغانستان کې د کاریزونو پر شالید او اهمیت خبرې وکړلې او زیاته یې کړه چې درې ورځنی دغه ورکشاپ به دلته د کاریزونو له دودیز سیستم څخه د کار د اخیستو د څرنګوالي په برخه کې ګټور وي.

په دغه ورکشاپ کې به نه یواځې د ګډونوالو تر منځ د کاریزونو اړوند د دوي شخصي تجربې یو له بل سره شریکې شي بلکې د کاریزونو د جوړولو، ساتلو او د اوبو لګولو په برخه کې له کاریزونو د ګټورې استفادې پر څرنګوالي به هم خبرې وشي.

د یادونې وړ ده چې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام په اډانه کې د کاریز ډیپارټمنټ فعالیت لري چې تر دې دمه یې په هیواد کې سلګونه کاریزونه رغولي او پدې توګه یې نه یواځې د کاریزونو دودیز سیستم ژوندي ساتلي بلکې د کاریزونو پر مټ یې د اوبو لګولو د سیستم د احیا کولو له لارې د بزګرانو د کرنیزو محصولاتو د ډیریدو تر څنګ د اوبو د بې ځایه لګښت مخه هم نیولې ده.





# د ننګرهار په کامې ولسوالۍ کې د ۱۶۷ میلونه افغانیو په لګښت ۱۴ کیلومتره سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

۱۳۹۸/ مرغومي / ۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت مالي او اداري معین معراج الدین شمس او ورسره مله پلاوي د ننګرهار ولایت په کامې ولسوالۍ کې د ۱۶۷ میلونه افغانیو په لګښت قیر( اسفالت) شوي سړک ګټې اخیستنې ته وسپاره.

ښاغلي شمس وویل، چې دا سړک نږدې ۱۴ کیلومتره اوږد دي، چې په اوږدو کې یې ٦٦ پلچکونه او محافظوي دیوال هم جوړ شوي دي.

د ننګرهار مرستیال والي تمیم عارف مومند دغه پروژه د کامې ولسوالۍ د اوسیدونکیو لپاره یوه مهمه پروژه یاده کړه، چې د دې سړک په جوړیدو سره به نه یوازې د خلکو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي، بلکې د سیمې کروندګرو لپاره به هم ګټې اسانتیاوې رامنځ ته کړي چې په اسانۍ سره خپل محصولات مارکیټ ته ورسوي.

د سیمې اوسیدونکو او قومي مشرانو د دې سړک جوړیدل د کامې ولسوالۍ لپاره ترټولو ګټوره پروژه وبلله ، چې ددې پروژې پرمهال سلګونو کسانو ته د کارموندلو زمینه هم برابره شوې وه.



# د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت ټولو ولايتي رئيسانو ته درې ورځنۍ ورکشاپ نن پيل شو

۱۳۹۸/مرغومي/ ۱

د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزارت لـه لـورې د ټولـو ۳٤ ولايتـي رئيسـانو او د ولسـي تـړون ملـي پروګـرام ولايتـي مسـوولينو تـه درې ورځنـي ورکشـاپ جـوړ شـو. د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزيـر پوهنـدوي مجيـب الرحمـن کريمـي يـې د پرانيسـتې پـه خبـرو کـې وويـل» لـه ټولـو ولايتـي رئيسـانو او د ولايتـي رياسـتونو لـه ټولـو کارکووونکـو مننـه کـوم، چـې د وزارت د تېر مالـي کال پلانونـه يـې ښـه پلـي کـړل او هېوادوالـو تـه يـې د څښـاک اوبـو، ترانسـپورت، برېښـنا، کرنيـزو څمکـود اوبـه کولـو او کاري فرصتونـو د ايجـاد پـه برخـه کـې د ژونـد ښـه کولـو ښـې اسـانتياوې برابـرې کـړې، همـدا اوس وزارت ستاسـې پـه زيـار پـه ټـول هېـواد کـې څـه کـم ۹ زره پرمختيايـي پـروژې لـري»

د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزارت د پروګرامونـو معيـن محمـد عيسـي قـدرت پـه خپلـو خبـرو کـې وويـل، چـې پـه دې ورکشـاپ کـې د تېـر کال د فعاليتونـو ارزونـه کيـږي او د راتلونکـې کال د وزارت پـه پلانونـو کـې بـه د هېوادوالـو د سـتونزو د ښـه انعـکاس پـه موخـه د ټولـو ولايتـي رئيسـانو نظرونـه، غوښـتنې او سپارښـتنې وپوښـتل شـي. د يادونـې وړ ده، چـې پـه دې درې ورځنـي کنفرانس کـې د ولايتونـو پـه لاسـته راوړنـو، د ولايتـي رئيسـانوپه نظرونـو او غوښـتنو بحثونـه کيـږي او د دوی سپارښـتنې بـه تـر ډيـره د وزارت د ۱۳۹۹ کال پـه عمومـي پـلان کـې شـاملې شـي.



## په کندهار کې د څه باندې ۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د کاریز او کانال پروژه بشپړه شوه

۱ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې د څه باندې ۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالي په حاجي شیر کلي کې د اوبو لګولو د ۷۲۲ متره کانال، کاریز، بند او زیرمتون د جوړولو پروژه بشپړه شوه.

د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۳۸۳۱ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي ترې ګټه پورته کوي.

یاده پروژې چې له ملي بودیجې تمویل شوې د سیمې ۲۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه یې د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راوستې چې پدې توګه به د ځایي بزګرانو د حاصلاتو د لوړیدو له لارې د دوی د اقتصادي اړخ د غوړیدا په برخه کې ګټوره پریوځي.





## په غور کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه پروژه بشپړه شوه

۳/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو، اوبه خور او حفظ الصحې پروګرام له لوري د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې د ۲.٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه پروژه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

دا شبکه د ۳۰ متره مکعبو اوبو په کچه یوه وسپنیزه کانکریټي زیرمه، د چینې محافظوي دیوالونه، میترونه، او نلکې لري، ددې پروژې په بشپړتیا سره ۱۱۱ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاسرسي پیدا کړ.




# د شینوارو ٦ ولسوالیو کې ٤٠٥ میلونه افغانیو په ارزښت ١٦٨ پرمختیایي پروژې پلې کیږي

۲/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو پرمختیا اوبیارغونې وزارت له لوري په شینوارو ولسوالۍ کې ١٦٨ پروژې پلې کیږي چې ٥ پروژې یې بشپړې، ۱۳۷ رواني، ١١ سروې شوي او ١٥ نورې پروژې په تدارکاتي پړاو کې دي. په یادو پروژو کې د ٤٥٥٨ مترو په اوږدوالي استنادي دیوالونه، د ٨٠٨ مترو په اوږدوالي سربندونه او کانالونه، ١٠ کیلومتره د کرېږ سړکونه، ٥٧ مسجدونه، ٤١ ښوونځي او٦ د څښاك اوبو رسولو شبکې شاملې دي چې د یادو پروژو چارې دا مهال پیل شوې دي د ننګرهار په ٨ ولسوالیو کې د ولسي تړون ملي پروګرام په بشپړیدو سره به د ولسونو په خوښه په نورو

ولسوالیو کې هم یاد پروګرام پیل شي چې ددې پروګرام په پیل سره به تر ډیره دخلکو ستونزې هوارې شي. د غه راز د ننګرهارد کلیو پرمختیا اوبیارغونې ریس انجینر امان الله میاخیل وویل چې اوسمهال د کلیو پرمختیا ریاست د ١٤٠٠ هجري لمریزکال لپاره د پرمختیایي پلان په جوړولو کار کوي او د شینوارو ولسونه کولاي شي چې خپل لومړیتوبونه د ننګرهارکلیو پرمختیا ریاست سره شریک کړي.

د شینوارو ولسوالیو ته د یادو پروژو اعلان د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت مالي او اداري چارو معین معراج الدین شمس، د ننګرهار والي شاه محمود میاخیل، دچارو اداري تخنیکي مرستیال او د یوشمیر وزارتونو مرستیالانو هسکې مینې ولسوالۍ ته د خپل سفر په ترڅ کې وکړدا پلاوي د ولسمشر لخوا د شینوارو د خلکو سره د شویو ژمنو د تعقیب په موخه د ننګرهار یادې ولسوالۍ ته تللي و.





# په فاریاب کې د یو لومړني ښوونځي د جوړولو چارې بشپړې شوې

۱۳۹۸/مرغومي/۵

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون د اقراء پروګرام له لوري د فارياب ولايت د اندخوي ولسوالۍ په قيچاق کلي کې يو لومړني ښوونځي ګټې اخېستنې ته وسپارل شو.

د دې ښوونځي ودانۍ ۸ ټولګي، تشناب او د څښاک اوبو يوه څاه لري، چې ۳۲۰ زده کوونکو ته به له دې ودانۍ ګټه اخلي

# په لوګر ولايت کې د نږدې يو ميليونه افغانيو په ارزښت د کاريز د پروژې کار به ژر بشپړ شي

۲ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کليو د بيا رغونې او پرمختيا وزارت د سيمه ييز پروګرام له لوري د نږدې ۱ ميليونه افغانيو په ارزښت په لوګر ولايت کې د اوبو لګولو د کاريز د پروژې کار ۷۵ سلنه مخ ته تللي چې له ټاکلي مهال ويش سره سم به بشپړه شي. د دغې پروژې په لړ کې د ياد ولايت د محمدآغې ولسوالي په سورلنډي کلي کې د کاريز څاه ګانې او د ۱۳۱۰ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال په پاخه ډول جوړيږي.

د دغې پروژې د تطبيق بهير پر مهال ۱۱۵۰ کاري ورځې رامنځته کيږي چې له بشپړيدو وروسته به سيمې ۲۹٤ کسه ترې ګټه اخلي او ۷۰ جريبه کرنيزه ځمکه به د اوبو کولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.





## په لوګر ولایت کې د نږدې ٤ میلیون افغانیو په ارزښت د کاریز د پروژې کار مخکې تللي

۳ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د نږدې ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت په لوګر ولایت کې د اوبو لګولو د کاریز د پروژې کار ۸۵ سلنه مخ ته تللي چې له ټاکلي مهال ویش سره سم به بشپړه شي. د دغې پروژې په لړ کې د یاد ولایت په مرکز پل علم پورې اړوند د زرداد کلا نوا باد کلي کې د کاریز شاه ګانې او د اوبو لګولو کانال په پاخه ډول جوېږي.

د دغې پروژې د تطبیق بهیر پر مهال ۱۸۰۷ کاري ورځې رامنځته کېږي چې له بشپړېدو وروسته به د سیمې ۱۸۹۰ کسه ترې ګټه اخلي او ۳۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه به د اوبو کولو تر منظم پوښښ لاندې راشي.

## په میدان وردګو کې د څه باندې ۲ نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د کانال او کاریز پروژه بشپړه شوه

۳۰ / لیندۍ / ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام تر څار لاندې د څه باندې ۲ نیم میلیونه افغانیو په ارزښت د میدان وردګو ولایت د مرکز میدان ښار په بسراق احمدزي کلي کې د اوبو لګولو د ۲۱۲ متره کانال، کاریز او بند د جوړولو پروژه بشپړه شوه. د دغې پروژې د تطبیق پر مهال ۱٦۱۹ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي ترې ګټه پورته کوي. یاده پروژه چې له ملي بودیجې تمویل او تطبیق شوې د سیمې ۷۵ جریبه کرنیزه ځمکه یې د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راوستې چې په دې توګه به د ځایي بزګرانو د حاصلاتو د لوړېدو له لارې د دوی د اقتصادي اړخ د غوړېدا په برخه کې ګټوره پرېوځي.

